# د تجربې په وسیله متخصصین: په برېتانیا کې د ژوند او زده کړې په اړه د نور تجربه

**له نور سره زموږ مرکه ولولئ ځکه چېر هغه خپلې تجربه په داسې حال کې له موږ سره شریکوي په 16 کلنۍ کې برېتانیا ته راغلی دی او د برېتانیا د ښوونځي له سیستم سره اشنا شوی دی.**

**موږ له نور سره کېناستو تر څو خبرې ورسره وکړو، هغه له خپلې کورنۍ سره په برېتانیا کې مېشت شوی و. نور له موږ سره په خپله مرکه کې برېتانیا ته د خپل راتګ د تجربې په اړه وویل، هغه د کووید-19 له قرنطین څخه لږ مخکې دلته راغلی و، هغه د برېتانیا او منځنې ختیځ د ښوونځي سیستمونه سره پرتله کړي وو او د راتلونکي لپاره د خپلو هیلو په اړه یې خبرې کړې دي. لاندې له هغه سره زموږ مرکه ولولئ تر څو دلته د هغه د لومړنیو دوه کلونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.**

**تاسو چې کله دوه کاله د مخه برېتانیا ته را ورسېدئ، 16 کلن وئ. کله چې تاسو ته په لومړي ځل وویل شول چې تاسو به په برېتانیا کې بیا مېشت شئ، نو څه احساس مو کاوه؟**

زه ویده وم چې والدینو مې د UN د کډوالو د اداري له لوري اړیکه ترلاسه کړه، ویل یې زموږ کورنۍ د بیا مېشتېدنې لپاره منل شوې ده. د سهار 9 بجې وې او په دې ورځ ما د ریاضي ازموینه لرله. پلار مې زما خونې ته راغی چې ما را ویښ کړي. هغه وویل: 'پورته شه - ویښ شه! موږ برېتانیا ته ځو!

ما فکر کاوه هغه ټوکې کوي. ما فکر کاوه هغه غواړي ما را پورته کړي چې د ریاضي د ازموینې را باندې ناوخته نشي، مګر د هغه خبره ریښتیا وه! کله چې زه پوه شوم چې هغه ریښتیا وایي، ما هغه ته وویل؛ 'په څومره وخت کې به وکولای شو چې لاړ شو؟' زه ډېر هیجاني وم. زما د کاکا زامن په امریکا کې بیا مېشت شوي وو او ما هم غوښتل چې خپلې زده کړې بشپړې کړم ځکه خو ډېر خوښ وم!

ما برېتانیا ته د راتګ په اړه داسې کومه ستره وېره یا اندېښنه نلرله، مګر دا یو عجیب احساس و چې په سوریه او اردن کې خپل ملګري پرېږدم او یوه نوي هېواد ته چې خورا لرې دی کډه کېږم. د خلکو پرېښودل زما لپاره تر ټولو ستونزمن کار و. ما له دې امله یو څه متفاوت احساسات لرل.

لومړی چې کله موږ له سوریې څخه را ووتلو، زه هغه وخت لا هم کوچنی وم – زه تر دې ډېر کوچنی وم چې په ریښتیا له شیانو سره تړاو پیدا کړم. مګر کله چې مې اردن پرېښود، زه له خپلې کورنۍ او ملګرو څخه جلا کېدم ځکه خو زما لپاره ډېره ستونزمنه وه. له نېکه مرغه زه اوس هم په سوریه او اردن کې له خپلو ملګرو سره په اړیکه کې یم او پر دې هم توانېدلی یم چې له خپل ښوونکي سره هم په اړیکه کې پاتې شم!

برېتانیا ته په راتګ سره زه زده کړې ته خورا لېواله وم چې ژبه زده کړم او خپلو زده کړو ته دوام ورکړم. زه همدارنګه ډېر هیله مند وم چې یوه ورځ به د خپل کاکا زامن وینم چې په امریکا کې اوسېږي. توپیر نه کوي چې هغوی برېتانیا ته راشي یا زه متحده ایالاتو ته ورشم. زه یوازې غواړم هغوی ووینم!

**مخکې له دې چې تاسو دلته راشئ، د برېتانیا په اړه مو څومره معلومات درلودل؟**

ما د دې هېواد په اړه کوم مشخص معلومات نلرل. ما همدارنګه په انګلیسي ژبه هم ډېرې خبرې نه کولې. کله چې زه په اردن کې وم، ښوونکي موږ ته په ابتدايي کچه د انګلیسي ژبې تدریس کاوه - اعداد، د اونۍ ورځې - د شیانو ترتیب. مګر دا هر هغه څه وو چې زه پرې پوهېدم، نو کله چې زه دلته راغلم، خپل ځان مې داسې وګاڼه چې انګلیسي له صفر څخه زده کوم.

همدارنګه کله چې ما په اردن کې انګلیسي زده کوله، دا د امریکایي او برېتانیایي انګلیسي ګډوله وه، نو کله چې به ما ځینې لغتونه په برېتانیا کې کارول، خلکو به ویل چې نه دا امریکایي دی!

هغه څه چې ما له نورو خلکو څخه اوریدلي وو چې دلته بیا مېشت شوي وو، هغه دا وو چې د ژبې خنډ به دا زموږ لپاره ستونزمنه کړي چې دلته په لومړیو کې سمون وکړو، مګر د وخت په تېرېدو سره به اسانه شي. او د هغه څه وو چې موږ ته را پېښ شول. په لومړیو کې دا ستونزمنه وه، مګر اوس زه خپل ځان د دې ټولنې یوه برخه ګڼم.

## ښوونځی په برېتانیا کې د اردن په پرتله څنګه دی؟

په برېتانیا او اردن کې ښوونځي په بشپړه توګه متفاوت دي. د ټولو د مخه ژبه ده. په اردن کې به موږ هر څه په عربي مطالعه کول. دلته موږ هر څه په انګلیسي ژبه مطالعه کوو. په دې دواړو هېوادونو د نورو په پرتله ځینې مشخص مضامین په بشپړه توګه متفاوت دي. د بېلګې په توګه تاریخ زما ډېر خوښ دی. په اردن کې موږ د اردن او عرب هېوادونو د تاریخ په اړه زده کړه کوله. مګر دلته په برېتانیا کې موږ په بشپړه توګه متفاوت مضامین لولو. ما پرېکړه وکړم چې تاریخ زده نه کړم ځکه چې دا له هغه څه نه په بشپړه توګه متفاوت و چې ما پخوا زده کړي وو. دا به خورا ډېر وخت ونیسي چې دا ټول نوي مطالب زده کړو. مګر کله چې خبره د ساینس او ریاضي شي، دا تر ډېره سره ورته دي ـ یوازې ژبه یې توپیر لري. نو زما لپاره اسانه ده چې پر ساینس او ریاضیاتو تمرکز وکړم ځکه چې دا تر ډېره د لېږد وړ دي.

دلته د تدریس ډول هم خورا متفاوت دی. د بېلګې په توګه، د عربي هېوادونو او اردن په ښوونځیو کې زده کوونکي په یوه ټولګي کې پاتې کېږي، بیا بېلا بېل ښوونکي تاسو ته راځي، مګر دلته خبره سرچپه ده. بل توپیر دا دی چې کله تاسو ازموینه ولرئ، دلته تاسو ته دوی یوه یا دوه اونۍ وخت درکوي تر څو چمتووالی ونیسئ، مګر په اردن کې به موږ یوازې یو څو ورځې لرلې. د دې تر څنګ، په اردن کې زما ښوونځی یوازې د هلکانو لپاره، مګر دلته زما ښوونځی ګډ دی.

همدارنګه دلته تاسو ډېر غوراوي لرئ چې په کومو مضامینو کې زده کړه وکړئ. تاسو کولای شئ مشخص مضامین وټاکئ چې تاسو به هغې رشتې ته بریالي کړي چې غواړئ په پوهنتون کې یې ولولئ. په داسې حال کې چې په عربي هېوادونو کې تاسو دوه لارې لرئ: یوه د ریاضیاتو او ساینس او بله د ادبیاتو برخه. بیا موډلونه په هره رشته کې تنظیمېږي. کله چې زه په اردن کې وم د دې ځای په پرتله به مې هلته ډېره کورنۍ دنده ترسره کوله.

## تاسو د کوویډ-19 له لومړي قرنطین څخه لږ د مخه برېتانیا ته راغلئ. وبا ستاسو په زده کړه څه ډول اغېز وکړ؟

کله چې زه برېتانیا ته را ورسېدم، یوه اونۍ ښوونځي ته لاړم او تر هغې وروسته د کوویډ قرنطین راغی. ښکاره ده چې په لومړۍ اونۍ کې زه پر ډېر څه نه پوهېدم، مګر ښوونکو او زده کوونکو به د خپل وس مطابق له ما سره مرسته کوله. هغوی به خپله ټوله هڅه کوله تر څو ډاډمن کړي چې زه د یواځېتوب احساس ونکړم.

بیا د وبا پر مهال باید ما په کور کې زده کړه کړې وه. ښوونکو ما ته ډېر بېلا بېل لېنکونه او شیټونه را واستول تر څو له ما سره د انګلیسي په زده کړه کې مرسته وکړي. زه تله له دې شعار ’هېڅکله نه مه وایه‘ سره ژوند کوم او همدا لامل و چې پر ما فشار راشي تر څو خپله انګېزه له لاسه ورنکړم.

زما ژبه اوس ښه ده، مګر لا هم اړتیا لرم چې تمرین وکړم. ما په ښوونځي او کالج کې ځینې داسې ملګري پیدا کړل چې هغوی عرب برتانویان دي او په انګلیسي ښه تسلط لري، خو په عربي ژبه ډېر نه پوهېږي. موږ د ژبې تبادله پیل کړه ـ ما به له هغوی سره مرسته کوله چې عربي زده کړي او هغوی له ما سره مرسته کوله چې انګلیسي زده کړم.

## تاسو اوس په کالج کې یاست. ایا د خپل راتلونکي ګام په اړه فکر کوئ؟.

هو، زه غواړم چې پوهنتون ته لاړ شم. که چېرته زه لا هم په اردن کې وم، نو د دې احتمال ډېر کم و چې پوهنتون ته د تللو چانس مې ترلاسه کړی وای. مګر دلته دا شوني ده. زه غواړم چې انجنيري ووايم، مګر زما پلار غواړي چې زه طب یا فارمسي ولولم... کېدای شي چې زه خپله پرېکړه بدله کړم. تر اوسه ډاډه نه يم!

زه نه پوهېږم چې کوم پوهنتون ته لاړ شم. زه به پنځه بېلا بېلو پوهنتونونو ته نوم ليکنه وکړم او هر يو چې مې ومني، به خوښۍ سره به ورشم. مګر زه ترجيح ورکوم چې له خپلې کورنۍ سره پاتې شم او تګ را تګ وکړم، خو دلته نږدې کوم پوهنتون نشته، له دې امله بايد لرې لاړ شم.

**د ټولنې ملاتړ ولې مهم دی؟**

زه نشم بيانولای چې د ټولنې د ملاتړ ګروپ په اړه څه ډول احساس لرم چې موږ ته يې ښه راغلاست وويل، هغوی زموږ لپاره ډېر څه ترسره کړل. زه داسې احساس کوم چې دغه طرحه زموږ په څېر کورنيو ته هيله ورکوي او ژوند ورته خورا اسانه کوي.

زه چې چېرته يم ډېر خوښ يم. زه د ټولنې يوه برخه يم. زه اوس هر څوک پېژنم او هغوی ما پېژني. کله چې زه خلک بهر او په دې شا و خوا کې ګورم، هغوی ما ته سترې مه شې وايي او زه هغوی ته.

**د ټولنې د ملاتړ ګروپ چې تاسو ته يې ښه راغلاست ووايه، اوس د دې لپاره چمتووالی نيسي چې د دويمې کورنۍ هرکلی وکړي او ستاسو کورنۍ له هغوی سره رضاکارانه مرسته کوي تر څو مېشته شي. تاسو په هغه کورنۍ کې تنکيو ځوانانو ته څه مشوره ورکوئ؟**

زما مشوره هغوی ته دا ده چې ژبه زده کړي ځکه چې دا د هغوی لپاره ژوند کول ډېر اسانه کوي. د ژبې زده کول په پيل کې خورا ستونزمن وي، له همدې امله مهمه ده چې هغوی تسليم نشي او صبر وکړي.